بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوښتنې ځواب

## په لوړ غږ د حق خبره کول

(ژباړه)

**پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

زه یوه پوښتنه لرم:

د یونس سورت، ۹۰ام ایت کې راغلي: [**فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ**] «فرعون او لښکر یې هغوی تعقیب کړل» او د طه سورت ۷۸ام ایت کې راغلي: [**فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ**] «فرعون په خپل لښکر هغوی تعقیب کړل»

ایا دا په دې معنی ده چې د حاکم امر او د حاکم عمل دواړه یو شی دي؛ نو وایو چې د امرونو پر وړاندې دریدل یې د عملونو پر وړاندې دریدلو سره یو دي؛ یعنې که موږ د هغه د پولیسو یا مرستیالانو پر وړاندې د حق خبره وکړو؛ همداسې ده لکه د ده پر وړاندې مو چې کړې وي؟ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې وینا تر مصداق لاندې راځي؟: «**أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ**» یعنې تر ټولو غوره جهاد د ظالم حاکم پر وړندې د حق خبره کول دي. مننه

د پوښتنې د الفاظو بدلولو حق لرئ؛ جزاک الله خیراً

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته

لومړۍ: په پوښتنه کې د دوو ذکر شوو ایتونو په اړه؛ چې الله سبحانه و تعالی د سورت یونس په ۹۰ام ایت کې فرمایي:

**[وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْياً وَعَدْواً]**

**ژباړه:** «او (په پایله کې) موږ بني اسراییل (د نیل) له سینده پورې ایستل؛ نو فرعون او لښکر یې د ظلم او دښمنۍ له امله هغوی تعقیب کړل (ورپسې شول)»

او دغه راز هغه سبحانه و تعالی د طه سورت، په ۷۸ام ایت کې فرمایي:

**[فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ]**

**ژباړه:** «نو فرعون په خپل لښکر هغوی تعقیب کړل؛ خو سیند دوی (فرعونیان) ښه پوره راونغاړل. »

ښکاري چې تاسو د معنی هغه توپیر ته اشاره کوئ چې د «جُنُودُهُ» کلیمه کې د (واو) او (باء) تورو په سبب رامنځ‌ته شوی. الله سبحانه و تعالی په لومړي ایت کې فرمايي: [**فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ**] «فرعون او لښکر یې هغوی تعقیب کړل». او بیا په دویم ایت کې فرمايي: [**فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ**] «فرعون په خپل لښکر هغوی تعقیب کړل».

د تفسیر د کتابونو له مخې، د «**فَأَتْبَعَهُمْ**» معنی دا ده چې هغه دوی وڅارل او ورورسېد.

خو لومړی ایت [**فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ**] «فرعون او لښکر یې»؛ له ژبني اړخه داسې فهمولی شو چې فرعون د هغو کسانو په منځ کې و چې دوی یې څارل؛ یعنې د موسی علیه السلام او بني اسرایلو په څارلو کې فرعون شامل و او په هغو کسانو کې و چې دوی یې څارل او ور ورسېدل. ځکه خو دلته واو (او لښکر یې) په ګډون دلالت کوي؛ یعنې د بني اسرایلو په څارلو کې د فرعون او هغه د لښکر ګډون.

او په دویم ایت کې: [**فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ**] «فرعون یې په خپل لښکر». له ژبني اړخه دلته پوهېدی شو چې فرعون یې له لښکر او د هغو له ملګرو سره په تعقیب کې شامل و؛ خو له ژبني اړخه دا خبره هم ترې درک کېدی شي چې فرعون یې له لښکر سره نه و او له هغو سره بهر نه ولاړ، بلکې یوازې په تعقیب کې یې مرسته ترې وغوښته؛ دا ځکه چې «با» د ژبې له اړخه ملګرتیا او مرستې ته اشاره کوي. نو په دغه ایت کې له «**بِجُنُودِهِ**» څخه هم دا معنی اخیستل کېږي چې فرعون یې له لښکر سره د بني اسرایلو په تعقیب کې ملګری و او هم دا معنی ترې اخیستل کېږي چې له هغو یې مرسته وغوښته؛ یعنی کېدای شي ورسره ملګری وي او کېدای شي پرته له دې چې خپله په دغه تعقیب کې برخه واخلي، یوازې له لښکره مرسته وغواړي؛ په دې معنی چې تعقیبوونکی پخپله فرعون نه، بلکې لښکر یې و.

د دغو دوو معناوو (مرسته یا ملګرتیا) تشخیص د دواړو ایتونو له ترکیب څخه ښکاري:

لومړی ایت له ژبني اړخه یوه معنی لري؛ هغه دا چې فرعون د موسی علیه السلام په تعقیب کې له خپل لښکر سره یو ځای و. د دوهم ایت معنی له ژبني اړخه ښايي دا وي چې فرعون د موسی علیه السلام په تعقیب کې له خپل لښکر سره ملګری و او دا معنی هم ممکنه ده چې په دغه تعقیب کې یې یوازې د خپل لښکر مرسته وغوښته او پخپله یې ګډون پکې ونه کړ. دا چې د دواړو ایتونو معنی سره په ټکر کې نه ده، نو د دواړو ایتونو له ترکیب څخه دا معنی اخلو چې فرعون د موسی علیه السلام په تعقیب کې له خپل لښکر سره و. یعنی په «**بِجُنُودِهِ**» کې (با) ملګرتیا ته اشاره کوي؛ په دې معنی چې دی د موسی علیه السلام په تعقیب کې له خپل لښکر سره یو ځای او ملګری و. دا د دواړو ایتونو له معنی څخه درک کوو.

دویم: په پوښتنه کې د ذکر شوي حدیث شریف په اړه؛ دا حدیث ترمذي په خپل سنن کې د ابو سعید الخدري رضي الله عنه په حواله روایت کړی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«إِنَّ مِنْ أَعْظَمِ الْجِهَادِ كَلِمَةَ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»**

**ژباړه:** تر ټولو ستر جهاد د ظالم حاکم پر وړاندې د عدل خبره کول دي.

ابو عیسی ویلي؛ په دغه باب کې د أبو أمامة په حواله، د هغه له نظره دا یو حسن غریب حدیث دی. د طبراني په معجم الکبیر کې د أبو أمامة په حواله راغلي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«أَحَبُّ الْجِهَادِ إِلَى اللهِ كَلِمَةُ حَقٍّ تُقَالُ لِإِمَامٍ جَائِرٍ»**

**ژباړه:** الله ته تر ټولو خوښ جهاد د حق هغه خبره ده چې ظالم حاکم ته ويل کېږي.

طبراني په يوه بل روايت کې له أبو أمامة څخه په روايت راوړي چې يوه کس په جمرات (په ډبرو د شيطان ويشتلو ځای) کې وويل: اې رسول الله، کوم جهاد تر ټولو غوره دی؟ هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»

**ژباړه:** تر ټولو غوره جهاد د ظالم حاکم پر وړاندې د حق خبره کول دي.

په عون المعبود کتاب کې د دغه حديث په تشريح کې راغلي: [... د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه په حواله، چې ويې ويل: پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «تر ټولو غوره جهاد د ظالم حاکم پر وړاندې د حق خبره کول دي.» په عون المعبود کې راځي:

(تر ټولو غوره جهاد): يعنې يو له تر ټولو غوره؛ لکه د ترمذي په روايت کې چې راځي: بې شکه چې يو له غوره جهادونو.

(د حق ـ عدل ـ خبره): د ابن ماجه په روايت کې د حق خبره ده؛ د لفظ مفهوم امر بالمعروف او نهی عن المنکر دی. دا که په خبره وي، که په ليکلو يا د مطلب د اظهار کومه بله لار.

(د يوه ظالم حاکم پر وړاندې): يعنې يو ظالم. بيشکه چې دا تر ټولو غوره جهاد شو؛ ځکه چې څوک له دښمن سره مبارزه وکړي، د وېرې او هيلې ترمنځ وي، نه پوهېږي چې بريالی کېږي که ماتې خوري.

د واک د څښتن پر وړاندې مظلوم دی؛ که حق ووايي او امر بالمعروف وکړي، له زيان سره مخ کېږي ځان له منځه وړي. لکه خطابي او نورو چې ويلي، دا پر وېره د برلاسي کېدو په سبب تر ټولو غوره جهاد دی. (يا يو ظالم حاکم / امير): ښکاري چې د راوي لخوا شک دی].

له دغه حديث شريف څخه پوهېږو چې تر ټولو غوره جهاد د ظالم واکمن پر وړاندې د حق خبره کول دي؛ نه يې د پلويانو. دلته د ظالم سلطان معنی ظالم واکمن دی؛ دا کېدی شي ولسمشر، پاچا، لومړی وزير يا والي وي. بايد واک او حاکميت ولري چې پر وړاندې يې د حق ويلو دا ارجحيت ورکړل شي.

خو دا په دې معنی نه ده چې د ناعادل او ظالم حاکم د پيروانو پر وړاندې د حق خبره هيڅ فضيلت نه لري. د حق خبره کول تل ښه او له فضيلته ډکه وي. خو کوم امتياز چې رسول الله صلی الله عيله وسلم په دغه حديث کې ذکر کړی، هغه د حاکميت او واک د خاوند پر وړاندې د حق خبره کول دي؛ لکه پخپله حاکم. ځکه چې په دغه ډول د حق خبره ډېر ارزښت لري؛ خطر ورسره مل وي او بايد د کولو لپاره يې زړورتيا او قوت وي. د حديث ځينو شارحينو ويلي:

[...خطابي ويلي: دا بېشکه چې تر ټولو غوره جهاد دی؛ ځکه چې څوک له دښمن سره مبارزه وکړي، د وېرې او هيلې ترمنځ وي، نه پوهېږي چې بريالی کېږي که ماتې خوري. د واک د څښتن پر وړاندې مظلوم دی؛ که حق ووايي او امر بالمعروف وکړي، له زيان سره مخ کېږي ځان له منځه وړي. دا پر وېره د برلاسي کېدو په سبب تر ټولو غوره جهاد دی. المظهر ويلي: دا ځکه غوره جهاد دی چې د سلطان ظلم د هغه تر حاکميت لاندې پر ټولو خلکو کېږي او په ډېره لويه کچه دی. که هغه له ظلم څخه منعه شي، ډېرو خلکو ته يې ګټه رسېږي، چې دا ځانګړتيا د کافر په وژلو کې نه شته...].

نو ټوله خبره پخپله د ناعادل او ظالم حاکم په اړه ده؛ نه د هغه پیروان، مرستیالان او عسکر.

ستاسو ورور،

عطاء بن خليل ابو الرشتة

۱۴۴۵هـ.ق، د رجب الخیر ۱۷مه

۲۰۲۴م، د جنوري ۲۹مه